# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے

# دوکا باز
# یعقوب




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Kerr; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.






آیا خدائ پاک ستاسو خاندان له هم ماشوم ورکړے؟ دا څومره د خوشحالئ خبره ده! او یقیناً چې اسحاق او ربقه به هم ډېره زیات خوشحاله وو ځکه چې خدائ پاک هغوئ له برغونی ماشومان ورکولو والا وو.


ماشومانو د ربقې په
خيټه کښې مزاحمت
شروع کړو. نو
چې کله ربقې دعا
وغوښتله نو خدائ
پاک ربقې ته په
جواب کښې ووئيل
ستا د دوو بچو نه به دوه
قومونه جوړ شی. او کشر
به د ټولو نه لوئ وی. حالانکې
هسې خو مشر لوئ وی. آخر دا
چې هغه ماشومان پيدا شول.
3


دا دواړه ماشومان يو شان نۀ وو. د
مشر زوئ عيسو په بدن ډېر زيات
ويښتۀ وو. او هغه لوئ شو او هغه
يو ډېر تکړه ښکاری وو.
4


خو د يعقوب وجود نرم وو او هغۀ به د کور په خوا کښې
کار کول خوښول. او د هغۀ پلار اسحاق به د عيسو سره
ډېره زياته مينه کوله او
د مور يې يعقوب
سره مينه وه.
5


يوه ورځ عيسو يعقوب ته ووئيل، چې ما له د
خوراک د پاره څۀ راکړه: نو يعقوب د عيسو
نه د مشرئ حق وغوښتلو.
6


اسحاق بوډا شوے وو. هغۀ خپل زوئ
عيسو ته ووئيل، تۀ زما د پاره تازه غوښه
راوړه نو زۀ به تا له برکت درکړم. د پلار
د طرف نه دا خاص برکت د خپل زوئ د
پاره وو. عيسو زر د ښکار د پاره بهر
لاړو. او د هغۀ مور دا هر څۀ واوريدل او
هغې غوښتل چې د عيسو په ځائ باندې
يعقوب ته برکت ملاو
شی.
7


ربقې يوه منصوبه جوړه کړه.
هغې زر تر زره د اسحاق د
پاره د هغۀ د خوښې خوراک
تيار کړو او يعقوب د عيسو
جامې واغوستلې او د چېلۍ
څرمن يې د خپلو لاسونو او
مرئ نه تاو کړه، د اسحاق نظر
ډېر کمزورے وو، نو په دې
وجه باندې هغوئ دواړو اسحاق
له دوکه ورکولے شوه.
8


یعقوب د اسحاق د پاره ډوډۍ
راوړه. اسحاق ووئیل، چې
ستا آواز خو د یعقوب دے او
لاسونه دې د عیسو په شان
دی. او چې کله اسحاق ډوډۍ
وخوړه نو هغهٔ هغهٔ له
برکت ورکړو.
9


څنګه چې یعقوب د هلته نه لاړو، نو عیسو اسحاق خواته
راغلو. او هغهٔ خپل پلار اسحاق ته ووئیل، ښه دا واخله
ستا ډوډۍ. اسحاق ته پته ولګېده
چې هغهٔ له دوکه ورکړے شوه.
هغه په ژړا او وې وئیل، ما
چې یعقوب له کوم برکت
ورکړے دے نو اوس زهٔ
هغه د هغهٔ نه واپس نهٔ شم
اخستلے. د عیسو زړهٔ د
نفرت نه ډک شو او هغهٔ د یعقوب
د وژلو منصوبه جوړه کړه.
10


ربقې ته د عیسو د ارادې پته
ولګېده نو هغې یعقوب ته ووئیل، چې
تهٔ د خپل ماما کور ته لاړ شه او تر
هغې پورې هلته کښې پاتې شه ترڅو
چې ستا د ورور نه دا هر څهٔ هېر
شوی نهٔ وی، څهٔ چې ورسره تا
کړی دی.
11


اسحاق هم په دې خبره باندې
رضا وو چې یعقوب د خپلې
مور په خاندان کښې د ځان د
پاره ښځه وګوری، نو بیا
یعقوب د هلته نه لاړو.
12


په هغه شپه باندې یعقوب د
اودهٔ کېدو د پاره په لاره کښې
ودرېدو او هغهٔ خپل سر په یو
کانی باندې کېښودو. کېدے
شی چې هغهٔ خپل ځان یوائې
محسوسولو او هغه
یرېدو. خو هغه یوائې
نهٔ وو. خدائ پاک د
یو حېرانونکی
خوب په
ذریعه باندې هغهٔ سره
خبرې وکړې.
13


زهٔ ستا د پلار نیکهٔ ابراهیم او
اسحاق خدائ پاک یم. زهٔ تا سره یم. زهٔ به دا زمکه
په کومه پاندې چې تهٔ ملاست یې تا له درکړم. او د زمکې
ټول قومونه او قبیلې به ستا او ستا د نسل په وسیله باندې
برکت مومی. کله چې خدائ پاک خبرې وکړې نو
یعقوب پاڅېدو. او هغه وویرېدو.
14


د يعقوب ماما لابن هغه ښځه په خوشحالۍ
باندې خپل کور ته بوتلو، او يعقوب د
خپل ماما لور راحيل سره مينه
کوله. او هغې سره د واده کولو
د پاره هغهٔ د خپل ماما لابن
اوۀ کاله خدمت وکړو.
خو د واده په شپه باندې
لابن يعقوب له دوکه ورکړه.
15


يعقوب خپل ماما ته ووئيل، چې تا ما له دوکه راکړه دا خو
راحيل نه ده بلکې ليا ده. لابن ورته ووئيل، چې اول د مشرى
لور واده کول ضروري دى. نو اوس تهٔ نور اوۀ کاله زما
خدمت وکړه نو بيا زهٔ تا له راحيل درکړم.
يعقوب د دې د پاره رضا وو. کيدے شى
چې يعقوب ته هغه وخت هغه دوکه
رايادہ شوې
يې کومه
دوکه چې
هغهٔ عيسو او
اسحاق له
ورکړې وه.
16


د يعقوب دولس زامن وو. ډېر
کالونه تېر شول، هغهٔ غوښتل
چې خپل کور والا واپس کنعان
ته راولى. د هغهٔ مور پلار هلته
وو. لکه څنګه چې عيسو د
يعقوب د قتلولو خبره کړې وه.
17


آيا يعقوب محفوظ وو؟ يوه
ورځ خدائ پاک هغهٔ ته د
واپس تلو د پاره ووئيل. نو
يعقوب خپله کورنۍ او رمې
رايو ځائ کړې چې د خپل
مور پلار کور ته لاړ شى.
18


يو ډېر ښکلے سفر وو.
عيسو يعقوب سره د
ملاوېدو د پاره څلورو
سوو کسانو سره راغلو
خو هغهٔ يعقوب له هيڅ
نقصان هم ورنهٔ کړو.
19


او هغه يعقوب سره د
ملاوېدو د پاره په منډه
راغلو او هغه يې راغاړه
ويستو. يعقوب او عيسو يو
بيا لکه د ملګرو په شان
ژوند تېرولو، او يعقوب په
خپل کور کښې محفوظ وو.
20

دوکا باز يعقوب

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

پيديښت ۲۵-۳۳

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښى ."
زبور 130:119






6 60



دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکى خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړى چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږى چې مونږ ډير علط کارونه کړى دى، چې هغې ته هغه گنا وايې. د گنا مزدوى مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسى د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عيسى باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځى او ستاسو دننه به استوگنه کوى او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږى.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دى نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسى زۀ ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعدارى وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲